# مسیر

ورځپاڼه

نوی لید، نوی مزل


www.maseerdaily.af

چهارشنبه د ۱۳۹۹ د تلې ١٦مه | د ۲۰۲۰ د اکتوبر اوومه | ٦٠٧مه ګڼه


## کتاب

۴ مخ

### د سهار وختي پاڅېدو اغېز




دا کتاب کولای شي د ډېرو کسانو په ژوند کې لوی لوی بدلونونه راولي او هغوی د ژوند تر ټولو هغو ښو مرحلو ته ورسوي، چې مخکې د هغه لاس ته راوړل ډېر ناممکن وو. ډېره ګټه وټه کول، د کسب و کار پرمختګ او ډېر مشتریان جلبول کولای شو له دغو لاس ته راوړنو یاد کړو.

## د اکتوبر اوومه، توره ورځ؛

### د امریکا ۱۹ کلنې جګړې د زرګونو افغانانو ژوند واخیست، لا یې پای نه ښکاري



۳

### <u>کرنې وزارت:</u> په ننګرهار کې د لیمو ۱۵ جریبه نوي بڼونه جوړ شوي دي



په هېواد کې د سېروسو او نورو مېوه لرونکو بڼونو د پراختیا د هلو ځلو په دوام دا ځل د کرنې وزارت د بڼوالۍ ځنځیري ارزښت د ودې سکتوري پروژې«HVCDSP» له خوا په ننګرهار کې د لیمو ۱۵ جریبه نوي بڼونه جوړ شوي دي.

د کرنې وزارت د یادې پروژې چارواکي وایي، چې په دغو بڼونو کې د لیمو دوه زره او ۱۰۰ نیالګي ایښودل شوي دي. د دوی په خبره، د دغو بڼونو د جوړولو ټولیز لګښت ۱.۳ میلیونه افغانۍ دی، چې د اسیایي پراختیایي بانک له خوا تمویل شوي ده. له دغو بڼونو په غیر مستقیمه توګه ۳۵۰ تنه ګټه پورته کوي.

د کرنې وزارت د بڼوالۍ ځنځیري ارزښت د ودې سکتوري پروژې چارواکي«HVCDSP» وایي، په پام کې لري چې د هېواد په څلورو ولایتونو «ننګرهار، لغمان، کونړ او خوست» کې د سېروسو یوشمېر بڼونه جوړ کړي.

### د اکتوبر اوومه، ۱۹ کاله وروسته امریکا خپله جګړه موږ ته پرېږدي؟

۲ مخ

### د ګاونډیو ولایتونو کندو؛ د غزني چهاردېوال پروژه د سقوط له ګواښ سره مخ ده

۲ مخ

### چین به خپل واردات د نړۍ ګوټ ګوټ ته ورسوي

۳ مخ

### <u>د ملکیانو د خوندیتوب ډله:</u> د جګړې ښکېل اړخونه دې د ملکیانو ژوند ته پاملرنه وکړي

په ننګرهار کې د ملکي وګړو د خوندیتوب کاري ډلې په ننګرهار او لغمان ولایتونو کې وروستي بریدونه وغندل او په جګړه کې پر ښکېلو اړخونو باندې یې غږ وکړ چې د ملکي وګړو ژوند ته ځانګړې پاملرنه وکړي. دوی ویلي، په دې وروستیو کې د بمي چاودنو او نورو جګړو ډېره مرګ ژوبله ملکي وګړو ته اوړي چې خلک یې اندېښمن کړي دي. د ملکي وګړو د خوندیتوب دغې ډلې ویلي، که د ملکي وګړو مرګ ژوبله دوام ولري، نو د سولې خبرې ورسره زیانمېدلی شي. د ملکي وګړو د خوندیتوب کاري کمېټې غږو تېره ورځ په جلال اباد ښار کې د یو رسنیز کنفرانس پرمهال دا څرګندونې وکړې.

د دوی له ډلې چترال همت شینواري ویلي، د ننګرهار په غني خېلو ولسوالۍ او لغمان د پېښو ترڅنګ په ټول هېواد کې شوي بریدونه او روان تاوتریخوالی ولس ته د منلو نه دی او دا بریدونه له انساني ارزښتونو سره په ټکر کې دي.

هغه په هېواد کې وروستي بریدونه په کلکو ټکو غندلي او د جګړې له دواړو خواوو یې غوښتنه وکړه چې نور له بې ځایه وینې تویېدنې لاس واخلي. شینواري دغه راز د قطر پلازمېنه دوحه کې د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ پیل شوې خبرې د دایمي سولې راتګ لپاره یو ښه فرصت یاد کړ او له ښکېلو اړخونو یې غوښتنه وکړه چې د همدې خبرو پر بنسټ رواني خونکارې جګړې ته د پای ټکی کېږدي. د یادې ټولنې غړې نسیمې سادات ویلي، افغانان نور له جګړو ستړي شوي او حکومت او طالبان باید د جګړو د پای او سولې راتلو دا چانس له لاسه ور نه کړي او سوله وکړي.

### <u>طالبان:</u> ټول اړخونه باید روان حساس وضعیت درک او د خنډونو له رامنځته کولو دې ډډه وکړي



۲ مخ

### شبکهٔ ۱۵ نفری که نیروهای امنیتی، افراد برجسته و چهره های سیاسی را ترور می کردند، بازداشت شده است



ریاست عمومی امنیت ملی، از بازداشت شبکهٔ ۱۵ نفری طالبان که وظیفه ترور نیروهای امنیتی – دفاعی، افراد برجسته و چهره های سیاسی افغانستان را داشتند خبرداد.

در خبرنامهٔ منتشر شده ریاست عمومی امنیتی ملی آمده است که نیروهای قطعات خاص ریاست عمومی امنیت ملی در عملیاتی هدفمند، اعضای شبکهٔ ترور گروه طالبان را در شهر کابل بازداشت کردند.

درخبرنامه آمده است: «امنیت ملی در این عملیات، یک شبکهٔ ۱۵ نفری از اعمال گروه «تروریستی طالبان» که وظیفهٔ ترورهای نیروهای امنیتی –دفاعی، افراد برجسته و چهره های سیاسی افغانستان را داشتند، بازداشت کرده اند.»

به اساس معلومات منبع، اعضای این شبکه در گروه های ۴ یا ۵ نفری تنظیم می شدند و به تثبیت محل زندگی رفت و آمد نیروهای امنیتی – دفاعی، افراد برجسته و چهره های سیاسی افغانستان می پرداختند و سپس پلان ترور را ترتیب می کردند، که قبل از عملی شدن این اقدام شوم شان، توسط نیروهای امنیت ملی بازداشت شدند. در خبرنامه، به زمان بازداشت این افراد اشاره نشده است.

این در حالیست که در کابل و دیگر شهرهای مهم افغانستان ترور کارمندان دولتی، افراد نخبه و چهره های سیاسی بی پیشنه افزایش یافته است که در اکثریت موارد قاتلان شان موفق به فرار از ساحه می شود.




## دریځ

## د اکتوبر اوومه، ۱۹ کاله وروسته امریکا خپله جګړه موږ ته پرېږدي؟

له نن څخه پوره ۱۹ کاله وړاندې د اکتوبر په اوومه امریکا پر افغانستان یرغل وکړ او ۱۹ کاله یې دلته جګړه وکړه. دا برید ظاهراً د سپټمبر د یوولسمې په پلمه شوی و، خو وروسته وروسته ښکاره‌ده چې امریکا د خپلو سترو موخو لپاره د سپټمبر یوولسمه پلمه کړه او پر افغانستان یې یرغل وکړ. د سپټمبر د یوولسمې په پېښه کې هېڅ افغان ښکېل نه و، خو امریکا پر افغانستان یرغل وکړ. په هغه پېښه کې شاوخوا درې زره امریکایان ووژل شول، خو امریکا یې غچ زموږ له بې ګناه وګړو واخیست. نولس کاله کېږي چې موږ له امریکایي وحشت سره مخ یو، سلګونه زره افغانان وژل شوي، سلګونه زره نور ټپیان شوي دي او لسګونه زره معیوب شوي دي. امریکا ۱۹ کاله خپلې نوې او ممنوعه وسلې پر افغانانو استعمال کړې او ویې ازمویلې. د بمونو مور یې وکاروله، سرتېرو یې د خلکو په وژلو کې نوې تجربې وکړې او پر خلکو یې نښه ویشتل زده کړل. امریکایي وحشیانو ۱۹ کاله د افغانستان په کلي کلي او کور کور کې غم خپور کړ، وحشت یې وکړ او لوټه لوټه او کاڼي کاڼي یې په وینو رنګ کړ.

دا دی ۱۹ کاله وروسته امریکا له طالبان سره د سولې هوکړه کړې، خپل ځواکونه وباسي، خو په افغانستان کې جګړه روانه ده. دا اوس جدي اندېښنه او پوښتنه ده چې امریکا ځي، خو ایا خپله جګړه موږ ته پرېږدي؟

د امریکا او طالبانو له هوکړې وروسته امریکایي ځواکونه، امریکایي موخې او امریکایي وګړي په افغانستان کې خوندي شوي، د سرتېرو وتلو ته خوندي لاره برابره شوې او د امریکا په لګښتونو کې میلیاردونه ډالره کمښت راغلی دی، خو د افغانانو وژنه لا هم هغسې روانه ده. امریکایي چارواکي بیا بیا دا خبره کوي چې دوی په افغانستان کې خپله جګړه ختمه کړې ده، د جګړې بار یې له اوږو ښکته کړی او دا د افغانانو مسوولیت دی چې خپله ستونزه پخپله حل کړي. امریکایي چارواکي په دې خبرو سره نړۍ ته دا پیغام ورکوي چې د افغانستان د جګړې لامل دوی نه وو او نه هم دا جګړه د دوی په ورتګ او تلو پورې تړلې ده، خو امریکا په دغه کار سره نه د جګړې د وحشتونو له مسوولیته ځان خلاصولی شي او نه هم دا رښتیا ده چې امریکا وځي او نور په افغانستان کې ښکېله نه ده. امریکا اوس هم په جګړه کې ښکېله ده او هم د سولې خبرې د دوی د پلان او اجنډا له مخې له ستونزو او خنډونه سره مخ دي او واقعي مدیریت یې د دوی په لاس کې دی.

لا هم معلومه نه ده چې امریکا رښتیا هم جګړه ختموي او که غواړي چې دا جګړه د افغانانو ترمنځ همداسې دوام وکړي، خو دا زموږ افغانانو مسوولیت دی چې خپله جګړه ختمه کړو او پرې نه ږدو چې زموږ دښمنان بریالي شي. اوس وخت دی چې ټول افغانان د سولې لپاره واقعي کار وکړي، خنډونه ختم کړي او په خپله یو بل ته لاسونه ورکړي، څو دا نولس کاله وړاندې د اکتوبر په اوومه پیل شوې امریکایي جګړه ختمه شي او افغانستان ته سوله او ثبات را وګرځي.

# د ګاونډیو ولایتونو کندو؛

## د غزني چهاردېوال پروژه د سقوط له ګواښ سره مخ ده

اړین کریمزی

د غزني ولایت سوېل ته په شل کېلومترۍ کې د سردې بند تر څنګ، د چهاردېوال په نامه پروژه د حکومت د نه پاملرنې له امله د تاریخ تر ټولو ناوړه وضعیت تجربه کوي. دا پروژه چې په ۱۳۴۷ کال کې ګټې اخیستنې ته سپارل شوې، په هغه وخت کې پکې دریو زرو کسانو فعالیت کاوه او تر نوي د ډېرو کلیو ۶۰ زرو کسانو ترې ګټه اخیسته؛ خو د مجاهدینو له واک ته رسېدو سره ورته توجه کمه، فعالیت یې صفر او په بشپړه توګه لوټ شوه.

دا پروژه چې د هر ډول زراعتي او حیواني فارمونو ظرفیت تر څنګ، درې اویا زره جریبه حکومتي ځمکه لري، د سردې بند له ښي او چپ کانال څخه خړوبېږي او د اوبو په برخه کې هیڅ ډول ستونزه نه لري.

د یادې پروژې د مسوولینو په خبره، که له دغې پروژې څخه په سمه توګه ګټه واخیستل شي، نو نه یوازې د غزني او ګاونډیو ولایتونو اوسېدونکو لپاره پکې د کار زمینه برابرېږي؛ بلکې د ګاونډیو ولایتونو غله‌دانه هم تامینولی شي.

د اندړو ولسوالي په زړه کې پرته دا ارزښتناکه پروژه چې د مجاهدینو او طالبانو په وخت کې ورته هیڅ توجه ونشوه، د میلیاردونو افغانیو په ارزښت پکې موجود توکي یا لوټ او یا هم تر باران، واورو او لمر لاندې وراسته شوي دي.

د جمهوري نظام په راتګ سره یې یو ځل بیا توجه جلب کړه، چې له ریاست څخه امریت ته بدله او تشکیل یې ارزښت ته په کتو په خپل حال پاتې شو؛ خو د ولسمشر غني له واک ته رسېدو وروسته یې د اداري کارکوونکو شمېر له شپېتو کسانو شلو ته ټیټ شو.

غني ژمنه کړې وه چې اوبه به کنټرولوي، نوي بندونه به جوړوي، کرنې ته به توجه ډېروي؛ خو د سردې بند او چهاردېوال پروژه لا هم د خدای تمې ته پاتې ده او د یادې ولسوالۍ اوسېدونکي له تندې او لوږې پاکستان او نورو هېوادونو ته په سردې بند او چهاردېوال پروژه تېرېږي او له هغې خوا یا پوډریان او یا هم ټوپک په لاس د همدې پروژې ورانولو ته را استول کېږي.

سره له دې چې غزني ته د ولسمشر غني له لومړي سفر سره یاد ولایت لومړی درجه شو، چې کاري ظرفیت یې باید لوړ او اداري پراختیا یې موندلې وای؛ خو نه یوازې ژمنې عملي نه شوې؛ بلکې له بده مرغه په ټولو ادارو کې وضعیت ورځ تر بلې خرابېږي، په ځانګړې توګه د سردې پروژې تشکیل کم شوی، اوبه یې بې ګټې بهېږي او پروژه ورځ تر بلې په کباړ بدلېږي.

ولسمشره بندونه مه جوړوه؛ شته ګوله مو له خولې مه کاږه!!

## افغان چارواکي: د دوحې مذاکراتو ته خوشبین یو او تمه لرو چې مثبته پایله به ولري



افغان چارواکي وايي، د دوحې مذاکراتو ته خوشبین دي او تمه لري چې دا مذاکرات به مثبته نتیجه ورکړي.

د ولسمشرۍ ماڼۍ ویاند صدیق صدیقي وایي چې ولسمشر غني ورم ماښام د د قطر له لومړي وزیر شېخ خالد بن خلیفه بن عبدالعزیز ال ثاني او د افغان سولې لپاره د امریکا له ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد سره لیدلي دي او د سولې په تړاو یې ورسره مفصلې خبرې کړي دي.

صدیقي وایي: «په دې کتنه کې د قطر او افغانستان د اړیکو پر پراختیا خبرې وشوې. دوحې ته د ولسمشر د سفر له اهدافو یو همدا دی. د دې ترڅنګ ولسمشر د امریکا له ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد سره هم وکتل او په دې غونډه کې د امریکایي ځواکونو عمومي قوماندان جنرال مېلر هم ګډون درلود.»

د قطر لومړي وزیر له ولسمشر غني سره په دې غونډه کې ویلي چې هېواد یې په افغانستان کې تلپاتې سوله او ثبات، امنیت او پرمختګ غواړي. په ورته وخت کې د بهرنیو چارو وزارت سرپرست محمد حنیف اتمر چې له ولسمشر سره په دې سفر کې یوځای دی، ویلي چې دولت د سولې په پروسه کې کورنۍ او بهرنۍ ملاتړ له ځانه سره لري.

اتمر زیاته کړې: «په نړۍ کې هېڅوک د مذاکراتو د ناکامولو هڅې نه‌کوي او ټول هڅې کوي چې مذاکرات بریالي شي. اوسمهال ټول عناصر چې مذاکرات بریالي کړي، شته.»

په ورته وخت کې د مرکچي پلاوي غړې فوزیې کوفي ویلي، د قطر له چارواکو سره د ولسمشر غني خبرې به د مذاکراتو پر بهیر اغېز وکړي.

کوفي زیاته کړې: «د ولسمشر سفر د دوو هېوادونو په کچه دی، خو یقیناً چې د مذاکراتو پر سرعت بې‌اغېزه هم نه‌دی. دا هم درک کوو چې زموږ خلک لوږې تمې لري، خو باید حوصله هم ولري.»

کوفي ویلي، اوسمهال د دواړو لورو مرکچي پلاوي له یو بل سره ویني، خو د دې په وینا، د اختلاف موارد تر اوسه شته، خو نوموړې د دغو اختلافاتو په اړه جزیات نه دي ورکړي.

بل لور ته د طالبانو د سیاسي دفتر ویاند محمد نعیم وړمه ورځ ناوخته پر خپله ټویټرپاڼه لیکلي چې د دغه دفتر مرستیال ملا عبدالغني برادر له زلمي خلیلزاد او د امریکایي ځواکونو له عمومي قوماندان سکاټ مېلر سره لیدلي او د فبرورۍ د هوکړه پر عملي کولو یې خبرې کړي دي.

## طالبان: ټول اړخونه باید روان حساس وضعیت درک او د خنډونو له رامنځته کولو دې ډډه وکړي



طالبانو له ټولو افغان لورو غوښتي چې د وضعیت حساسیت درک کړي او د یوه ټول‌شموله خپلواک اسلامي نظام راتګ لپاره لاسونه سره یو او پر وړاندې یې خنډونه رامنځته نه کړي.

طالبانو دغه څرګندونې په هغې خبرپاڼه کې کړي چې په افغانستان کې د طالبانو پر ضد د امریکایي ځواکونو د بریدونو د ۱۹ کلونو بشپړېدو په مناسبت خپره شوې ده.

په خبرپاڼه کې راغلي، د امریکایي یرغل له پیل څخه مخکې طالبانو د خپلې سوله‌ییزې پالیسۍ له مخې، په مکرر ډول غوښتنه وکړه چې د ستونزې د هوارې لپاره باید له تعقل، تدبر او سالمې دیپلوماټیکې کړنلارې څخه کار واخیستل شي.

سرچینې زیاته کړې، خو هغه مهال امریکایي چارواکو په خورا مغرورانه لهجه د طالبانو د خبرو اترو وړاندیزونه رد کړل او د ۱۳۸۰ لمریز کال د تلې په ۱۵ مه چې د ۲۰۰۱ کال د اکتوبر له ۷مې سره یې سمون خوړ، نظامي یرغل وکړ.

طالبانو زیاته کړې: «نولس کاله وروسته ټول جهتونه دې خبرې ته راغلي چې باید یاده قضیه له لومړي سره د خبرو او تفاهم له لارې حل شوې وای او که هغه وخت زموږ سوله‌ییزو وړاندیزونو ته مثبت ځواب ویل شوی وای؛ نو له دومره اوږده جنګ، ظلم او زیاتي، زموږ د بې دفاع خلکو وژلو، ټپي کولو، بې کوره کولو، د یوې فاسدې اداري په چوکاټ کې غصب، چور، رشوت، خیانت، د نشه یي توکو پراخ تولید او سل ډوله نورو جرایموته به له زمینه سازۍ څخه مخنیوی شوی وای.»

په خبرپاڼه کې راغلي، امریکا، متحدین او ائتلافي هېوادونه به یې هم له دومره زیاتو جنګي جرایمو، بدنامیو، ځاني او مالي زیانونو سره نه مخ کېدلای.

طالبانو ویلي، دا چې ۱۹ کاله وروسته په دوحه کې د امریکایي اشغال د خاتمې لپاره مذاکرات وشول او یوه معتبره وثیقه او توافقنامه ترسره او لاسلیک شوه، هم غوره خبره ده چې باید ګام په ګام عملي کړل شي او له مخې یې ټول بهرني ځواکونه له هېواده ووځي.

سرچینې زیاته کړې، باید د امریکا په شمول لرې او نږدې ټول هېوادونه د افغانستان په کورنیو چارو کې له هر ډول مداخلې څخه ځان وساتي، ترڅو افغانان وشي کولای په ازاده او مستقلانه فضا کې په خپلو کې د خپل هېواد د راتلونکي په اړه پرېکړه وکړي.

په خبرپاڼه کې راغلي، طالبان د ټولو قضایاوو په سالمه فضا کې د حل کولو لپاره بشپړ تعهد لري، مقابلو جهتونو ته هم سپارښتنه کوي چې فرصت غنیمت وګڼي، د وضعیت حساسیت درک کړي او د یوه ټول‌شموله خپلواک او مستقل اسلامي نظام چې د ټولو افغانانو غوښتنه ده د راتګ په لاره کې لاس یو او نور خنډونه رامنځه نه کړي.

# چین به خپل واردات د نړۍ ګوټ ګوټ ته ورسوي



لیکواله: غوټۍ
د چین میډیا ګروپ خبریاله

د چین د وارداتو دربیم نړیوال نندارتون به د نومبر له ۵مې د همدې میاشتې تر ۱۰مې په شانګهای کې تر سره شي. چین به په دغه نندارتون کې د بېلابېلو هېوادونو تصدیو ته د ګډون بلنې ورکړي او غواړي چې د دغه نندارتون په رڼا کې نړۍ ته خپل بازار لا پراخ کړي او له نړیوالو سره د اقتصادي پرمختګ ګټې شریکې کړي.

چین په نړۍ کې د دویم لوی اقتصاد په توګه د کابو ۱۲۰ هېوادونو او سیمو ډېر لوی سوداګریز ملګری ګرځېدلی او د چین د وارداتو اندازه د نړۍ په عمومي اندازه کې ۱۱ سلنه نیسي، چې دغه رقم په تېرو مسلسلو ۱۱ کلونو کې په نړۍ کې دویم مقام نیولی دی. دغه راز چین په نړیوال تولیدي ځنځیر کې یو مهم برابروونکی هم دی. د یو کمربند او یوې لارې د ګډې ابادۍ د وړاندیز او د بشریت د ګډ برخلیک ټولنې د مفکورې له پلي کولو سره سم د چین او نړۍ تر منځ تماسونه لا نږدې شوي دي. د ۲۰۲۰ کال تر جنوري پورې چین د یو کمربند او یوې لارې د ګډې ابادۍ په چوکاټ کې له ۱۳۸ هېوادونو او ۳۰ نړیوالو سازمانونو سره همکاریز تړونونه لاسلیک کړي دي.

چین او افغانستان یو له بل سره ښه ګاونډي او دوست هېوادونه دي. په ۲۰۱٦ کال کې د دواړو هېوادونو تر منځ د یو کمربند او یوې لارې د ګډې ابادۍ یادښت لاسلیک شو او وروسته تر دې د سیاست، اقتصاد او کلتور په برخو کې دوه اړخیز تګ راتګ ګام په ګام د زیاتېدو په حال کې دی. په تېرو څو مسلسلو کلونو کې چین د افغانستان دویم وارداتي هېواد او دریم صادراتي هېواد ګرځېدلی دی. د چین او افغانستان تر منځ د مالونو لېږد رالېږد، د اورګاډیو چارې او د اورموچي او کابل تر منځ مستقیم پرواز د دواړو هېوادونو تر منځ د سوداګرۍ د پیاوړتیا لپاره ښه زمینه برابروي. د دې تر څنګ، چین ته د جلغوزیو، زعفرانو او غالیو په ګډون د افغانستان د ځانګړو تولیداتو صادرات هم پیاوړي شوي، چې دا د افغانستان بزګرانو او سوداګرو ته ښې ګټې وړاندې کوي. د چین د اقتصاد چټک پرمختګ او په چین کې لوی بازار د افغانستان د اقتصاد د پرمختګ لپاره ښه فرصت دی.

د ۲۰۲۰ کال په دویمه ربعه کې د چین د کورنیو تولیداتو عمومي حجم د زیاتوالي انډول درې اعشاریه دوه سلنې ته رسېدلی او په دې مناسبت چین په نړۍ کې لومړی اقتصاد ګرځېدلی، چې اقتصاد یې له نرمېدو څخه فعال شوی دی. د چین د سږ کال د ملي جشن او سپوږمۍ اختر د رخصتۍ په موده کې د چین بېلابېلو ځایونو د تعقیم، څارنې او د سیلانیانو د شمېر د کنټرول په ګډون، د کوویډ- ۱۹ وبا پر ضد د تدبیرونو په نیولو سره د سیلانیزو چارو د پیاوړتیا تدبیرونه نیولي دي، چې په چین کې د سیلانۍ د سمسورتیا لپاره یې ښه زمینه برابره کړې ده. چین د کلتور او سیلانۍ وزارت د تازه شمېرنې له مخې، د اکتوبر له لومړۍ تر څلورمې نېټې پورې په چین کې د سیلانیانو شمېر ۴۲۵ میلیونو ته رسېدلی چې دغه شمېر د تېر کال د همدې مودې په پرتله اته اویا اعشاریه څلور سلنې ته رسېدلی او سیلانیزې ګټې ۳۱۲ میلیاردو او شلو میلیونو یوانو (کابو ۳۱۲ میلیاردو او دوه سوه میلیونو افغانۍ) ته رسېږي، چې دغه شمېر د تېر کال د همدې مودې په پرتله اته شپېته اعشاریه نهه سلنې ته رسېدلی دی. له دې څخه ثرګندېږي چې د چین سیلانیزې چارې او اقتصاد د چټک دوباره اعاده کېدو په حال کې دی.

د چین د وارداتو نړیوال نندراتون هم د چین د سوداګریز جوړښت د اصلاح کولو او د کورنیو مشتریانو د اړتیاوو د پوره کولو یوه کړکۍ ده او هم د چین د بازار او د بېلابېلو هېوادونو د تصدیو تر منځ د لا نږدې نښلولو صحنه ده. چین د افغانستان د ښه دوست، ګاونډي او ملګري په توګه په پرله پسې توګه د یو کمربند او یوې لارې د ګډې ابادۍ په چوکاټ کې د اسیا د زړه په حیث د مقام غوره والي د پیاوړتیا لپاره له افغانستان سره مرسته کوي، څو د افغانستان په ګډون، بېلابېل هېوادونه د چین له چټک پرمختګ څخه ګټه واخلي. د چین د وارداتو نړیوال نندارتون به په دې برخه کې حتماً مهم رول ولوبوي.

# د اکتوبر اوومه، توره ورځ؛

## د امریکا ۱۹ کلنې جګړې د زرګونو افغانانو ژوند واخیست، لا یې پای نه ښکاري



پر افغان خاوره د امریکایي پوځ یرغل شلم کال ته د ننه شو. پوره ۱۹ کاله وړاندې د ۲۰۰۱ز کال د اکتوبر په اوومه امریکایي پوځیانو د لومړي ځل لپاره په مستقیمه توګه پر افغان خاورې یرغل وکړ. دوی یې خپله موخه د القاعده شبکې او طالبانو له منځه وړل ښودلي وو او تر څنګ یې له نړیوالو سره ژمنه کړې وه چې دوی به په افغانستان کې یو پیاوړی مرکزي حکومت جوړوي، د نشه یي توکو پر وړاندې به مبارزه کوي، په سیمه کې به ثبات راولي او له نړیوالو یې په دې برخه کې د مرستې غوښتنه کوله. خو افغان جګړه شلم کال ته د ننه شوه، پر افغان انسان تور تم دی، د جګړو تیارو هر څه په ټپه درولي دي.

پوره ۱۹ کاله وشول چې په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو جګړه روانه ده او نه یوازې د افغانانو بلکې د سیمې د ډېرو وګړو ژوند یې تریخ کړی دی. د وروستیو معلوماتو له مخې یوازې په تېرو لسو کلونو کې د امریکایانو په جګړه کې نږدې ۱۰۰ زره افغانانو ته مرګ ژوبله اوښتې ده.

امریکایانو د سپټمبر د یوولسمې تر پېښې وروسته پر افغان خاوره برید وکړ. برېتانیا او د ناټو غړي هېوادونه یې د ځان ملګري کړل او کلونه کلونه یې دلته جګړه وکړه چې لا هم ددې جګړې اور بل دی او افغان انسان یې د ویر پر ټغر کېنولی دی.

د جورج بش په مشرۍ د هغه مهال امریکایي حکومت له نړیوالو سره ژمنه وکړه چې په افغانستان کې به د القاعده شبکې پر وړاندې مبارزه کوي، د ترهګرو ځالې به ورانوي، د طالبانو پر وړاندې به جګړه کوي، په افغانستان کې به دیموکراتیک او پیاوړی مرکزي حکومت جوړوي، نشه یي توکي به له منځه وړي او د یوه مدرن افغانستان د جوړولو لپاره به همکاري کوي. خو امریکا ددې ژمنو برعکس عمل وکړ او افغان وطن ته یې غمیزه راوړه. هغه وخت د ښاغلي حامد کرزي په مشرۍ حکومت په څلونو ټینګار وکړ چې د ترهګرو ځالې په افغانستان کې نه بلکې په پاکستان کې دي خو امریکا دلته پر جګړې ټینګار کاوه چې هر کال یې تر پنځو زرو پورې عامو افغانانو ته مرګ ژوبله اړوله.

د ملګرو ملتونو د راپور له مخې ان تر ۲۰۲۰ز کال پورې چې امریکایانو له طالبانو سره د سولې هوکړه لاسلیک کړه د ملکي وګړو مرګ ژوبلې ادامه کړې ده.

د ملګرو ملتونو د راپور له مخې یوازې د ۲۰۲۰ز کال په لومړیو شپږو میاشتو کې نږدې درې نیم زره عامو افغانانو ته مرګ ژوبله اوښتې ده. د سرچینې په خبره (( د ۲۰۲۰ز کال په لومړیو شپږو میاشتو کې ۳۴۵۸ کسانو ته مرګ ژوبله اوښتې ده. له دې دلې ۱۲۸۲یې مړه شوي او ۲۱۷٦کسه ټپیان دي)).

دا یوازې د هغه کال شمېرې دي چې امریکا پکې له طالبانو سره د سولې هوکړه لرلې ده او طالبانو د تاوتریخوالي د کمېدو ژمنه کړې ده. هر کال زرګونه افغانان د امریکایي جګړې له امله مري. په تېرو لسو کلونو کې (له ۲۰۰۹ تر ۲۰۱۹ز) پورې امریکایي جګړې سل زره عامو افغانانو ته مرګ ژوبله اړولې ده. ملګري ملتونه وایي ((یونما چې په سیستماتیکه توګه له ۲۰۰۹ د ملکي وګړو د تلفاتو د شمېرې ثبت پیل کړی له هغه مهال تر ۲۰۱۹ز پورې سل زره افغانانو ته په دې جګړه کې مرګ ژوبله اوښتې ده)).


له دې ټولو سره د معلوماتو له مخې امریکا هر کال له څلوېښتو تر پنځوسو میلیاردو ډالر پر افغان جګړه لګولي دي. له دې سره هممهاله تر ۱۰۰ زره پورې امریکایان په افغانستان کې په جګړه بوخت وو، چې د نورو بهرنیو په شمول دا شمېره تر ۱۵۰ زره پورې رسېده. د افغانستان په جګړه کې ۲۴۴۱ امریکایان، ۴۴۵ برېتانویان او ۱۱۴۴ د نورو هېوادونو سرتېري وژل شوي دي او زرګونه نور ټپیان دي.

دا د امریکایي جګړې تلفاتو او لګښتونو ته لنډه کتنه وه، خو تازه واشنګټن له هغه ډلې سره د سولې هوکړه لاسلیک کړه او ځان یې له افغان جګړې و ایست چې د یادې ډلې د ماتولو لپاره یې د زرګونه افغانانو ژوند واخیست او پوره شل کاله یې د افغان انسان کور تپه تیاره کړ. دا چې امریکا ولې په لومړي سر کې له طالبانو سره هوکړه نه کوله، ولې یې شل کاله پس هغه کار وکړ چې کلونه مخکې یې افغانانو غوښتنه کوله، د امریکایي حکومت پر وړاندې ستري پرتې پوښتنې دي.

لا هم ددې هیله نشته چې امریکا دې په افغانستان کې جګړه ختمه کړي او لا هم د افغان انسان د امریکا له لوري د پیل شوې جګړې تر اور لاندې سوځي. امریکایانو په افغان جګړه ځان په نړۍ کې اتل کړ، ټولې نړۍ ته یې ښکاره کړه چې ترهګري او ددوی هېوادونو ته متوجه خطرونه یې له منځه وړي او له دې درکه یې په معنوي او مادي لحاظ ګټې وکړې، خو افغانستان لا هم د پردۍ جګړې ډګر دی.

# د کرونا ویروس چټکه پراختیا؛

## په نړۍ کې پر کرونا ویروس د اخته کسانو شمېر ۳۵ میلیونه او ۸۲۱ زره او ۲٦۱ ته ورسېد



په نړۍ کې د کرونا ویروس مثبتې پېښې لاهم په چټکۍ سره د پراختیا په حال کې دي. د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې د دغه ویروس مثبتې پېښې ۳۵ میلیونه او ۸۲۱ زره او ۲٦۱ ته رسېدلي دي. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې دمه یو میلیون او ۵۰ زره او ۲۵۹ کسان مړه شوي او ۲۷ میلیونه نور ترې ببرته رغېدلي دي.

د دغو شمېرو له مخې، د امریکا متحده ایالتونه د کرونا د ډېرو مثبتو پېښو او مړو له کبله د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. په امریکا کې د دغه ویروس مثبتې پېښې اووه میلیونه ٦۸۲ زره او ۷۸۱ ته رسېدلي او ۲۱۵ زره او ۱۲۷ امریکایان یې مړه کړي دي.

له امریکا وروسته هند د شپږ میلیونه او ۷۰٦ زره او ۹۰۰ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دویم، برازیل د څلور میلیونه او ۹۴۰ زره او ۷۰٦ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ دریم، روسیه د یو میلیون او ۲۳۷ زره او ۵۰۴ مثبتو پېښو له کبله د نړۍ څلورم او کولمبیا د ۸٦۲زره او ۱۵۸ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ پنځم هغه هېواد دی، چې د کرونا ویروس ډېر مثبتې پېښې پکې ثبت شوې دي.

دغه راز هسپانیه، پېرو، ارجنټاین، مکسیکو او جنوبي افریقا په ترتیب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د کرونا ویروس له کبله ډېر ځپل شوي دي.

په ورته وخت کې د امریکا د متحدو ایالتونو ولسمشر دونالډ ټرمپ په روغتون کې له ۷۲ ساعتونو بستر کېدو وروسته رخصت شوی او سپینې ماڼۍ ته ستون شوی دی. ټرمپ څو ورځې مخکې اعلان وکړ چې هغه او مېرمن یې مېلانیا ټرمپ پر کرونا ویروس اخته شوي دي.

ښاغلی ټرمپ له روغتون څخه د پوځ په یوې څرخي الوتکه کې سپینې ماڼۍ ته ولاړ. هغه له الوتکې څخه تر ښکته کېدو وروسته په زینو وخوت، له مخ څخه یې ماسک لرې کړ او په بالکینې کې ودرېده او پوځي الوتکې ته یې لاس وخوځوه او بیا سپینې ماڼۍ ته دننه ولاړ او هلته ورته خپل همکاران منتظر ولاړ وو.

ولسمشر ټرمپ له روغتون څخه تر رخصتېدو څو شېبې مخکې په خپل ټویټر کې ولیکل: «له کروناویروس څخه مه ډارېږئ. اجازه مه ورکوئ چې ستاسو پر ژوند لاسبرى شي.» هغه دا هم لیکلي وو چې تر ۲۰ کاله مخکې، اوس ډېر ښه احساس کوي.

## د کتـــاب خبـرې

# افغانستان او سیمه‌ییزه همکاري
## فرصتونه او ستونزې

◎ لیکوال : څېړندوی محمد سرور احمدزی

### څلورم فصل
### د سیمه‌ییزې همکارۍ پروړاندې پرتې ستونزې



د سیمې د هېوادونو مشران پر دې پوهېږي، چې افغانستان کولای شي په سیمه کې د سولې او ثبات د ټینگښت په برخه کې مهم رول ترسره کړي او یو باثباته افغانستان د ټولې سیمې په گټه دی. افغانستان د مرکزي اسیا، جنوبي اسیا او منځني ختیځ ترمنځ د پله حیثیت لري او د سترو زېربنایي پروژو تطبیق کول د مرکزي او جنوبي اسیا او د منځني ختیځ ترمنځ د اړیکو له پراختیا او نږدې والي سره ډېره مرسته کولای شي. په افغانستان کې د سولې او ثبات د نشتون په صورت کې به مرکزي اسیا، جنوبي اسیا او منځنی ختیځ له یوبل سره وصل نه شي. د افغانستان حکومت او نړیوالې ټولنې د هڅو په پایله کې له افغانستان څخه د سیمه‌ییز ملاتړ په موخه د اسیا زړه استانبول پروسه او د ریکا اقتصادي کنفرانسونه پیل شوي وو، د اسیا زړه د استانبول پروسه او ریکا به د افغانستان او د سیمې د نورو هېوادونو د مشرانو لپاره د دې زمینه برابره کړي چې د مهمو سیاسي، اقتصادي او امنیتي مسایلو او ستونزو په اړه خبرې وکړي. د سیمې د هېوادونو ترمنځ همکاري په سیمه کې د ثبات د ټینگښت او باور رامنځته کولو لپاره ډېره مهمه گڼل کېږي .

د سیمه‌ییزې همکارۍ د پراختیا له لارې به سوداگرې پراختیا پیدا کړي، د سوداگرۍ او پانگونې پراختیا به له یوه لوري خلکو ته د کار پیدا کولو زمینه برابره کړي او له بل لوري به د دولتونو د عوایدو د زیاتېدو سبب شي، چې د سیمه‌ییزې اقتصادي ودې لپاره ډېر مهم گڼل کېږي، چې په پایله کې به یې ټولنیز او اقتصادي ثبات رامنځته او د دولتونو د پیاوړتیا سبب به شي. سیمه‌ییزه همکاري به له یوه لوري سیمې ته ثبات او سوکالي راوړي او له بل لوري به د سیمې له اقتصاد سره د افغانستان د تړل کېدو سبب شي.

د سیمه‌ییزې همکارۍ د پراختیا پر اصولو د بهرني سیاست د بنسټ اېښودل د افغانستان د بهرني سیاست یوه مهمه لاسته راوړنه گڼل کېږي، د سیمه‌ییزې همکارۍ په پراختیا کې د افغانستان رول د بېلابېلو اعلامیو په وسیله د سیمې د هېوادونو له لوري په رسمیت پېژندل شوی دی د افغانستان حکومت پر دې بریالی شوی، چې د سیمې د مهمو سیمه‌ییزو سازمانونو سارک او ایکو غړیتوب ترلاسه کړي او د شانگهای همکاریو سازمان کې د «څارونکي» هېواد په توگه ومنل شي، نو ویلای شو چې افغانستان د سیمې له هېوادونو سره د همکاریو د پراختیا په برخه کې لاسته راوړنې لري او د ځینو سترو سیمه‌ییزو اقتصادي پروژو د جوړېدو چارې پیل شوې او د ځینو نورو د جوړېدو چارې د پیل کېدو په حال کې دي. د افغانستان دننه داخلي ستونزې، کمزورې حکومتولي، د ظرفیت نشتون، د سیمه‌ییزو اړیکو او همکاریو د پراختیا په موخه د عملي میکانیزمونو نه رامنځته کول او د سیمه‌ییزې همکارۍ د ارزښت، اهمیت او مفهوم په اړه د افغانستان د سیاسي مشرانو لږه پوهه او معلومات د دې سبب شوي وو، چې افغانستان ونه شي کولای له سیمه‌ییزو همکاریو څخه اغېزمنه استفاده وکړي او یا هم د سیمې د مهمو هېوادونو ملاتړ ترلاسه کړي .

په سیمه کې د سوداگرۍ، تجارت، ترانزیټ او پانگونې د پراختیا په موخه د سیاسي ارادې نشتون، د خصوصي سکتور کم رنگه ونډه او رول او د سیمې د هېوادونو د بانکونو او گمرکونو ترمنځ د همکارۍ نشتون، وروسته پاتې والی، د اوبو د وېش پرسر اختلافونه، د سیمې د هېوادونو ترمنځ سیالي او سرحدي اختلافونه د سیمه‌ییزې همکارۍ د پراختیا پروړاندې ستر خنډونه گڼل کېږي. د ترانسپورت، سوداگرۍ، پانگونې او ترانزیټ پراختیا د سیمه‌ییزې همکارۍ لپاره مهم لومړیتوبونه دي د انرژۍ امنیت ساتل هم د سیمه‌ییزې همکارۍ د پراختیا لپاره مهم گڼل کېږي او د سیمه‌ییزې همکارۍ پراختیا په افغانستان او سیمه کې د ثبات او سولې د ټینگښت لپاره مهمه گڼل کېږي .

سیمه‌ییزه سوله او پرمختگ له یو بل سره تړلي دي د پرمختگ له لارې سولې او د سولې له لارې پرمختگ ته لار هوارېږي، اقتصادي همکاري د سیمه‌ییزې همکارۍ د پراختیا په برخه کې مهم رول ترسره کولای شي. د سیمه‌ییزې سوداگرۍ، پانگونې، زېربناوو او د سوداگرۍ په برخه کې د اسانتیاوو رامنځته کول او د انرژۍ د امنیت او پراختیایي همکاریو ته پاملرنه د سیمه‌ییزې همکارۍ د پراختیا لپاره مهم گڼل کېږي. د افغانستان د حکومتي ادارو ظرفیت لوړول هم اړین دي او د داسې یو عملي میکانیزم یا بنسټونو رامنځته کول چې له مخې یې د سیمې هېوادونه وکولای شي خپله پوهه، تجارت او ټیکنالوژي له یو بل سره شریک کړي .

د افغانستان مشران تر یوه حده پورې پر دې وتوانېدل چې د سیمې له ځینو هېوادونو او سیمه‌ییزو سازمانونو سره سیمه‌ییزو همکاریو ته پراختیا ورکړي. افغانستان د سارک او مرکزي اسیا د اقتصادي همکاریو پروگرام یا کریک غړیتوب ترلاسه کړ، د ایکو سازمان غونډو کې د افغانستان استازو په دایمي توگه گډون کاوه او په شانگهای سازمان کې افغانستان د ناظر هېواد په توگه ومنل شو. همدارنگه د افغانستان مشرانو او حکومت وکولای شول د سیمه‌ییزې همکارۍ د پراختیا په موخه د ځینو مهمو پروسو رهبري پر غاړه واخلي، د اسیا زړه استانبول پروسه او د افغانستان په تړاو د ریکا کنفرانسونو د افغانستان او د سیمې د هېوادونو ترمنځ د همکاریو د پراختیا په برخه کې مهم رول ترسره کړ. **دوام لري...**

# د سهار وختي پاڅېدو اغېز

◄ اکسوس کتابپلورنځی



مهمه نه ده چې همدا اوس په کوم حالت کې یاستی، ممکن د تصور شوې بریا تر ټولو په ښه موقف کې یاستی، ممکن همدا اوس د هڅو او خپل مسیر د پیدا کولو په حال کې یاستی، موږ ټول لږ تر لږه یو گډ ټکی لرو (ممکن له یوه زیات وي، ولې زه پر همدې یوه باوري یم.) موږ خپله د خپل ځان او ژوند ښه والی غواړو، دا په دې مانا نه ده چې موږ او زموږ ژوند په ستونزو کې راگیر یو، انسان هر وخت په دروني میل سره د رشد او پرمختگ لپاره دې دنیا ته راځي، زه باوري یم چې موږ ټول دغه ذهنیت لرو. په عین وخت کې موږ ټول سهار په داسې حال کې له خوبه را پاڅېږو چې نننی سهار مو له پروني سهار سره چنداني توپیر نه لري.

د کتاب لیکوال وایي، د یو لیکوال، ویناوال او د بریا د یو مربي په حیث زما دنده دا ده، څو خلکو ته وښیم چې څنگه کولای شي خپله نامحدوده دروني انرژي را ښکاره کړي. د یو لارښود په حیث مې خپل ژوند، انساني دروني انرژۍ ته وقف کړی دی.

په کلک باور درته ویلای شم چې د «سهار وختي پاڅېدو اغېز» کتاب په دې اړه تر ټولو ښه پایله ورکوونکی او بدلون را منځ ته کوونکی کتاب دی، چې کولای شی د ژوند په بېلابېلو برخو کې ترې استفاده وکړئ.

دا کتاب کولای شي د ډېرو کسانو په ژوند کې لوی لوی بدلونونه راولي او هغوی د ژوند تر ټولو هغو ښو مرحلو ته ورسوي، چې مخکې د هغه لاس ته راوړل ډېر ناممکن وو. ډېره گټه وټه کول، د کسب و کار پرمختگ او ډېر مشتریان جلبول کولای شو له دغو لاس ته راوړنو یاد کړو.

په هغو برخو کې د خپلې خوښې وړ بریا لاس ته راوړل د هغو نورو لارو چارو په واسطه رامنځ ته کېږي، چې تر ډېره ناممکنې بلل شوې وي. دغه لاس ته راوړنې کېدای شي د روغتیا، خوښ اوسېدو، اړیکو پاللو، مالي مسایلو او یا هم په ځینو نورو برخو کې وي.

د هغو کسانو لپاره چې هغوی په ستونزو او یا هم ذهني، احساسي، فزیکي او یا هم مالي مسایلو کې له ستونزو او گډوډۍ سره مخ وي، دغه کتاب په څو څو واری دا ثابته کړې چې هغوی پر دغو په سترگو نه حل کېدونکو ستونزو برلاسي شوي، هغوی شرایط بدل کړي او بالاخره بریا ته رسېدلي. غواړم چې په څو مهمو برخو کې تاسې ته ځینې مهم او اړین بدلونونه وښیم: د ژوند په ټولو برخو کې مو د مثبت بدلون راوستو ته اماده اوسئ. تاسې د همدې بدلونونو لپاره همدا تر ټولو ښه کتاب غوره کړی دی. تاسې په سترگو او ذهن د هغو ناممکن بلل شوو معجزو پر سفر راوتي یاستی، چې کولای شی د یو اوږد بدلون په طی کولو سره مو خپل ژوند بدل کړی او دا هرڅه هره ورځ د سهار تر اتو بجو مخکې رامنځ ته کېږي.

د «سهار وختي پاڅېدو اغېز» کتاب تر اوسه په نړۍ کې د زرگونو خلکو ژوند بدل کړی دی. زه خپله له هغو کسانو یو یم او کولای شي چې ستاسې په ژوند کې د مثبت بدلون راوستو لپاره هم اغېزناک رول ادا کړي.

مینه وال کولای شي یاد کتاب پر اکسوس سربېره، د ښار له نورو لویو کتابپلورنځیو هم په مناسب قېمت تر لاسه کړي.

## روانه اونۍ اکسوس کتاب پلورنځي ته تازه راغلي کتابونه

Aksos

| شمېره | د کتاب نوم | لیکوال / ژباړن | بیه |
|---|---|---|---|
| ۱ | د اسیا د نویو پېړیو تاریخ | جان محمد پیغام | ۲۰۰؋ |
| ۲ | د هنر تاریخ | جان محمد پیغام | ۱۰۰؋ |
| ۳ | د افغانستان د منځنیو پېړیو تاریخ او د مستقلو دولتونو تشکیل | مستعلي نیازی | ۱۸۰؋ |
| ٤ | جادوی فکر بزرگ | دیوید جی. شوارتز/مهین خالصی | ۳۵۰؋ |
| ۵ | ۳استراتیژی جنگ | رابرت گرین/فاطمه باغستانی | ۵۰۰؋ |
| ٦ | یو شپون و | سعدالدین شپون | ۱۵۰؋ |
| ۷ | ادبي نقد | سعدالدین شپون | ۱۵۰؋ |
| ۸ | د مرگ مسافر | ایم ای اسلم راهي/باطن شاه عبدالرحیمزی | ۱۵۰؋ |
| ۹ | زوړ سړی او سیند | ارنېسټ همینگوی/سعدالدین شپون | ۱۰۰؋ |
| ۱۰ | میتودولوژي | نصیراحمد ښاد | ۱۵۰؋ |
| ۱۱ | اداره او منجمنټ د ټولو لپاره | خان آغا شینواری | ۱۸۰؋ |
| ۱۲ | ۳۵۰۰ اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو د ازموینو د پوښتنو بانک | عظیم الله منت یار | ۳۰۰؋ |
| ۱۳ | میتودهای پالیسی سازی عامه | میلاد بارکزی | ۱۵۰؋ |
| ۱٤ | رازهای زندگی | جمشید رسا | ۳۰۰؋ |
| ۱۵ | د بریالیتوب راز | ډیل کارینگی/عاقله سادات | ۵۰؋ |
| ۱٦ | ارادي قوت | ډیل کارینگی/عاقله سادات | ۵۰؋ |
| ۱۷ | مه مره...! | ثناء الله فیضي | ۷۰؋ |
| ۱۸ | مستقیم‌فکر | داریوس فرو/ثناء الله فیضي | ۸۰؋ |
| ۱۹ | حقوق فامیل جلد اول و دوم | عبدالقادر عدالت‌خواه | ۳۲۰؋ |
| ۲۰ | مدیریت پروژه | محمد نعیم عظیمي | ۲۵۰؋ |
| ۲۱ | Harry Potter The Complete Series | J.K. Rowling | ۱۸۵۰؋ |
| ۲۲ | Nineteen Eighty-Four 1984 | George Orwell | ۱۷۰؋ |
| ۲۳ | The Perks of being a wallflower | Stephen Chbosky | ۱۳۰؋ |
| ۲٤ | The End of History and the Last Man | Francis Fukyama | ۱۸۰؋ |
| ۲۵ | THE Four Agreements | Don Miguel Ruiz | ۱۵۰؋ |
| ۲٦ | MODEL BUSINESS LETTERS EMAILS ADN OTHER BUSINESS DOCUMENTS | Shirley Taylor | ۳۵۰؋ |
| ۲۷ | ریاض الصالحین پښتو ژباړه اول او دویم ټوک | ابو زکریا یحیی/عبدالهادي | ٤۵۰؋ |
| ۲۸ | فکري نوښت | قدیرالله تسل | ۱۰۰؋ |
| ۲۹ | د سهار وختي پاڅېدو اغېز | ال هالرد/ امان الله حنیفي | ۱۷۰؋ |
| ۳۰ | د ادبي کره کتنې مشال | گل الرحمن رحماني | ۲۲۰؋ |

**په خپل کور او کار ځای کې د کتابونو د تر لاسه کولو لپاره له لاندې شمېرو سره اړیکه ونیسئ**

پته: دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ    اړیکه: 9696-98-0798 - 0202504652

همیانی

# ولې د غږيزو کتابونو اورېدل گټه لري؟

ژباړه: حامد حقمل

تولستوی په هر کونج کې اورېدو؛ آگاتا کريسي به هره ورځ په لاره اورېدو او کيپلينگ به په پخلنځي کې اورېدو.
بشر د داستانونو يو لرغونی تاريخ لري، شفاهي کيسې لسگونه کلونه مخکې هغه وخت چې آن ليک رامنځ ته شوی هم نه و، د نسلونو تر منځ سينه په سينه يو له بل لېږدېدلې.
موږ ډېر داسې نړيوال داستاني اثار لرو، خو هغه ته څنگه د ټکنالوژۍ پر اساس پوښښ ورکړو؟
په رښتيا هم چې د کتابونو اورېدل او لوستل ډېر توپير نه لري، موخه او مهمه دا ده چې داستان واورو او له هغې خوند واخلو؛ مهمه نه ده چې له کومې لارې دغه کړنه تر سره کړو. لاندې مو ديارلس لارې په ښه ډول د غږيزو کتابونو اورېدو ته ځانگړې کړې دي:

**۱ـ کولی شئ د کار کولو پر مهال غږيز کتاب واورئ**

کله چې تاسو غږيز کتاب اورئ، اړتيا نشته چې ټول حواس مو کتاب ته وي، ځکه چې ستاسې سترگې ازادې دي، کولای شی موټر وچلوئ، په فزيکي ډول کار وکړئ او يا هم کوم بل فعاليت ولرئ، نو دا مهال مو د دغه کتاب اورېدل د کار خنډ نه گرځي.
البته چې اکثره وخت د ځينو کارونو سرته رسول او د کتاب اورېدل يو ځای نه کېږي، خو ډېری وخت داسې کارونه شته چې غږيز کتاب ورسره اورېدلی شو. کولی شو کله چې په لار قدم وهو، ورزش کوو، په موټر کې سفر کوو او يا هم دې ته ورته کوم بل کار کوو، غږيز کتاب واورو.

**۲ـ د غږيز کتاب اورېدو پر مهال مو لاسونه ازاد دي**

واقعيت دا دی چې غږيز کتابونه ((هندزفري)) دي، مطلب دا چې کولی شو د ورزش په وخت کې تولستوی واورو او کليپلينگ کولی شو په پخلنځي کې د ډوډۍ تيارولو پر مهال واورو.
غږيز کتابونه د هغه چا لپاره چې هغوی ته د چاپي کتابونو اړول را اړول ستونزمن يا هم د پاڼو ساتنه ورته سخته وي، ډېر اغېزمن دي.

**۳ـ غږيز کتاب هنري لارويان لري**

د يو چا د غږ اورېدل د داستان په شخصيت اغېز کوي، هغه کسان چې په هنري ښه کتاب په غږيزه ښه وايي، فکر کوي چې د کتاب ليکوال ما ته لکچر



راکوي او د همغه ليکوال د شخصيت ښکارندوی ښکاري. دا مهال د ويونکي غږ له داستان سره کمک کوي او د چاپي کتاب په پرتله يې هنري اغېزه زياتېږي.

**۴ـ د غږيزو کتابونو په اورېدلو سره وخت په اسانه تېرېږي**

موږ په ډېره لړه اندازه فکر کوو او ډېر تمرکز مو په لوبو او ساتيريو وي او کم تمرکز مو په تېر (ضايع شوي) وخت وي. نو له همدې امله وخت پرواز کوي او موږ ښکته ځو.
تر ډېره په اوږدو سفرونو لاره خورا ستړې کېدونکې وي، خو د غږيز کتاب په اورېدو سره به مو هم له وخت نه گټه اخيستې وي او هم به اوږده لاره راباندې اسانه شوې وي.

**۵ـ غږيز کتابونه مو له يوازيتوب ژغوري**

د غږيزو کتابونو درلودل له يوازيتوب سره مبارزه ده. په ټوله کې ويلی شو چې د يوازيتوب په وخت کې د انسان تر ټولو ښه ملگری کتاب دی چې انسان له يوازيتوب ساتي او ذهن يې له منفي فکرونو ژغوري.
کوم وخت چې د جالبو شخصيتونو داستانونه اورم او د هغه په اړه په خيالي فکر کې ډوب وم، نو غږيز کتاب هغه ملگري ته ورته دی، چې له ما سره يوازې خونه کې ناست وي او کيسه راته کوي.

**۶ـ غږيز کتاب تاسې يوې بلې نړۍ ته بيايي**

فکر وکړئ چې خپلې دندې ته هره ورځ روان ياست، د تگ په وخت موټر کې له ناست ملگري تنگ راغلي ياست؟ هره ورځ د موټر له تگه ستړي شوي ياست؟ د غږيز کتاب په اورېدو سره کولی شئ دا هر څه له منځه يوسئ. نو هر کله چې موټر کې يا هم لاره کې کتاب اورئ، تاسو به يوې نوې نړۍ ته ځئ او خپل حواس به مو د ښار له شوره او د موټر له شته سوارلی ټول او لاره به دربانديې نه اوردېږي.

**۷ـ د غږيزو کتابونو په اورېدو سره کارونه په اسانه تر سره کولای شی**

هېڅ ځای د تېښتې لاره نشته؛ بايد هغه ستړي کېدونکي کارونه چې موږ ترې تښتو، لومړی سر ته ورسوو. د لوښو مينځل، نظافت او اتو کول او د کور هر ډول پاک کاري؛ که پوه شو نو کولی شو د دې هر څه تر څنگ غږيز کتاب هم واورو؛ گټه به مو دا کړې وي چې يو به مو د کور کارونه په اسانه تر سره کړي وي او بل به مو کتاب اورېدلی وي.

**۸ ـ غږيز کتابونه تر هرڅه اسانه مطالعه کېږي**

ماشومانو او سپين ږيرو ته چې له کتاب سره تر ډېره اشنا نه وي او د کتاب لوستل ورته سخت تمامېږي، نو د هغوی لپاره غږيز کتابونه تر ټولو ښه لاره ده او د نړۍ د مطالعې لپاره يې هيلې زياتېږي او هم کولی شي چې وخت ښه پرې تېر شي.
غږيز کتابونه د ړندو او هغو کسانو لپاره چې د سترگو ليد يې کم وي، ډېر ښه تمامېدلی شي.

**۹ ـ غږيز کتابونه کولی شئ په ډله‌ييزه توگه واورئ**

موږ ډېری د کتابتون يا مطالعې ځايونه لرو، خو د کتاب ويلو دا تجربه مو کمه ده، چې يو کتاب ولولو او هغه له بل چا سره شريک کړو. د غږيزو کتابونو په واسطه کولی شو په هر ځای کې کېنو او کتاب واورو او له بل کس سره په ورته وخت کې دغه کتاب شريک کړو، مطلب دا چې په يو وخت به يې دوه کسان اورو.

**۱۰ ـ غږيز کتابونه د خوب وخت کې ډېره گټه لري**

موږ ټول د شپې د خوب له گټو خبر يو. بې خوبي د ستړيا، خسته گۍ او د ورځنيو کارونو د گډوډۍ سبب گرځي.
ډېری پوهانو د غږيزو کتابونو په گټو او ارامښت ويده کېدو او بې خوبۍ ليکنې کړې دي. د غږيز کتاب په اورېدو سره مو حواس يوې خوا ته راټولېږي او ورو ورو دغه حواس کمېږي او د خوب په طرف ځي.

**۱۱ ـ غږيز کتاب له تاسو سره د کتاب په خلاصولو کې مرسته کوي**

د کتاب ويل په ننني ژوند کې ستونزمن شوي، مطلب دا چې د ژوند بوختياوې انسان دې ته نه پرېږدي چې کتاب مطالعه کړي.
د کتاب مطالعه کول يو ځانگړی او مناسب ځای غواړي چې مطالعه کوونکی نه شي کولی په کارځای کې هغه ته وخت ورکړي. ځينو کارځايونو کې دغه فرصت وي، خو ډېريو ځايونو کې دغه موقع نه وي؛ نو داسې بوختياوو کې د کتاب مطالعه او د هغه خلاصول ستونزمن دي.
د غږيزو کتابونو يوه بله گټه دا هم ده چې تر ډېره مشخص ځای نه غواړي او کولی شو تر ډېره په هر ځای کې کتاب واورو او کله يې چې په مسلسل ډول واورو، حتمن خلاصېږي او د بل کتاب د اورېدو فرصت راکوي.

**۱۲ ـ د غږيز کتاب په اورېدو سره انسان د ارامۍ احساس کوي**


دا به مو ښه په ياد وي چې کله ماشومان وی او چا به چې کيسه درته کوله، ځومره خوند به يې کاوه او په مينه به مو اورېده. کله به چې مور او پلار يا هم نيا و بابا درته کيسې کولې، ډېرې په مينه مو اورېدې، نو غږيز کتاب تاسو ته دغه خوږه خاطره بيا بيا په ياد راوړلی شي.

**۱۳ ـ غږيز کتابونه په وړيا ډول تر لاسه کولای شی**

په دې وروستيو کې ډېرو کسانو مهم او اغېزناک کتابونه په غږيزه ښه ويلي دي، کولی شی له ځينو سايټونو او يوټيوب چينلونو او همدارنگه ټولنيزو رسنيو يې تر لاسه کړی.
په پښتو ژبه په دې وروستيو کې حامد احمدزي پښتو ژبې ته مهم او اغېزناک کتابونه چې ستاسې د ژوند پر هره برخه مثبت اغېز کولای شي، په غږيزه ښه اړولي، کولای شی غږيزې بڼې يې له اکسوس کتابپلورنځي تر لاسه کړی.

## نیویارک ټایمز: امریکا په کندهار کې د خپلې لویې پوځي اډې نړول پیل کړي

نيويارک ټايمز امريکايي ورځپاڼې راپور ورکړی چې متحده ايالتونو په افغانستان کې د خپلو اډو د نړولو بهير پيل کړی دی.
په دغه راپور کې راغلي، امريکايي ځواکونو د کندهار هوايي ډگر په نامه د خپلې يوې پراخې پوځي اډې ورانول پيل کړي دي. راپور کاږي، په کندهار کې د امريکايي ځواکونو د دې سترې اډې ځينې برخې ان په ۲۰۱۳ ز کال کې ويجاړې شوې او له دې داسې ښکاري چې امريکا هغه وخت لا په افغانستان کې د خپلو پوځيانو د پاتې کېدو لپاره اوږدمهالی پلان نه درلود. که څه هم امريکايي ځواکونو په افغانستان کې خپلې ډېری اډې تر



دې وړاندې افغان ځواکونو ته سپارلې دي، خو د دوحې هوکړې تر لاسليکېدو وروسته يې د ويجاړولو په اړه راپورونه ورکول کېږي. د يادونې ده چې څو ورځې وړاندې يوې پاکستانۍ ورځپاڼې راپور ورکړی و چې متحده ايالتونه په افغانستان کې د خپلو شاوخوا ۴۰۰ پوځي اډو ويجاړولو په حال کې دي.
پاکستاني رسنيو د امريکايي چارواکو له خولې ويلي وو چې امريکا د روانې ميلادي مياشتې تر پايه په افغانستان کې خپلې څلور سوه پوځي اډې ويجاړوي او پکې مېشت پوځيان به خپلو نورو پنځو لويو اډو ته راټول کړي.
امريکايي چارواکو د نوم نه ښودو په شرط رسنيو ته ويلي چې د امريکا پوځ پر خپلو دغو نظامي اډو ميلياردونه ډالر لگولي، په مجهزو او پرمختللو وسايلو سمبال دي، نو ځکه يې افغان ځواکونه د کاروني او کنټرول وړتيا نه لري.
دوی همدا راز زياته کړې چې امريکا د خپلو پنځو نورو لويو پوځي اډو د برخليک په اړه چې ډېر لگښتونه پرې شوي، تر اوسه کومه پرېکړه نه ده.
د يادونې ده چې د امريکا دغه لويې په بگرام، کندهار، ننگرهار، کندهار او فراه ولايتونو کې دي چې زرگونه پوځيان پکې مېشت دي. د امريکا او طالبانو ترمنځ د شوې هوکړې له مخې به امريکايي ځواکونه تر راتلونکي کال پورې په بشپړه توگه له افغانستانه وځي.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ٧٦,٧٥ |
| € | ٨٩,٢٠ |
| Rp. | ٤٨٣ |
| ₹ | ١٠٤٠ |
| ¥ | ١٠,٥٠ |
| £ | ٩٨,٢٠ |

### بېړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
**گرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایگل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶
۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
WAYGAL PRINTING CO
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co
waygalprinting.co@gmail.com


چهارشنبه د ۱۳۹۹ د تلې ۱٦مه | د ۲۰۲۰ د اکتوبر اوومه | ٦۰۷مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲٦ | ۲٥ | ۳۰ | ۲۳ | ۳٤ | ۳۰ |
| ۱۰ | ۷ | ۱۱ | ۱۰ | ۱۹ | ۱۸ |

شرعي وختونه: سهار ۰٤:۳۰ | لمر ختل ۰٥:٥۱ | ماسپښین ۱۱:٤۲ | مازیګر ۰۳:۰۰ | ماښام ۰٥:۳۱ | ماخوستن ۰٦:٥٤

## نړۍ




د کرونا ویروس چټکه پراختیا؛

# په نړۍ کې پر کرونا ویروس د اخته کسانو شمېر ۳۵ میلیونه او ۸۲۱ زره او ۲٦۱ ته ورسېد

۳

## ناټو: ارمنستان او اذربایجان دې ژر تر ژره جګړه ودروي او کړکېچ دې د خبرو له لارې حل کړي



د ناټو عمومي منشي ینس سټولټنبرګ ویلي چې د ارمنستان او اذربایجان پوځونه دې روانه جګړه ژر تر ژره ودروي او خپلمنځي کړکېچ دې د خبرو له لارې حل کړي.
نوموړي د ارمنستان او اذربایجان ترمنځ له جګړې سره هممهاله ترکیې ته سفر کړی دی. سټولټنبرګ زیاته کړې چې د دواړو هېوادونه ترمنځ جګړه ستونزې نه شي حل کولی، نو اړینه ده چې پر سوله ییزو حل لارو تمرکز وشي.
هغه ویلي: «ډېره مهمه ده چې موږ دواړو لورو ته واضېح پیغام وړاندې کړو چې دوی دې له ځنډ پرته جګړه ودروي او موږ به د دغه کړکېچ د حل په موخه له ټولو سوله ییزو حل لارو خپل ملاتړ وکړو، ځکه چې د نګورنو قره باغ ستونزه د جګړې له لارې نه حل کېږي».
په ورته وخت کې ترکیې له ناټو غوښتي چې د یادو هېوادونو ترمنځ په جګړه کې له اذربایجان خپل ملاتړ څرګند کړي.
د ترکیې د بهرنیو چارو وزیر مولود چاووش اوغلو ویلي چې ناټو او نور سیمه ییز هېوادونه دې نړیوالو قوانینو ته په پام، له نګورنو قره باغ سیمې څخه د ارمنیانو د ایستلو په پار له اذربایجان خپل ملاتړ وکړي.
د یادونې ده چې له نږدې دوو اونیو راهیسې د نګورنو قره باغ پر سر د اذربایجان او ارمنستان ترمنځ په جګړو کې له ۲۰۰ ډېر کسان وژل شوي او سلګونه نور ټپیان دي.

## راپورونه: په قرغیزستان کې تر پراخو لاریونونو وروسته پارلماني ټاکنو پایلې لغوه شوې

د قرغیزستان د ټاکنو مرکزي کمېسیون د تېرې یکشنبې پارلماني ټاکنو پایلې باطلې اعلان کړې دي.
له دې سره د زرګونو اعتراض کوونکو هغه غوښتنه پرځای شوه، چې لارو سړکونو ته راوتلي وو او ځینې دولتي ودانۍ یې نیولې وې. اعتراض کوونکو ویل، چې په ټاکنو کې د درغلیو له لارې هغه ګوندونه ګټونکي شوي چې له نظام سره نږدې اړیکې لري. د ولسمشر سورونبای جینبیکوف دفتر تر دې مخکې ویلي وو، چې ولسمشر پر دغه هېواد بشپړ کنټرول لري، خو د ده د خپل ځای ځایګي په اړه یې څه نه وو ویلي. ولسمشر جینبیکوف تېره ورځ په یوه جلا اعلامیه کې د پارلماني ټاکنو د رایو له باطلېدو سره رضایت ښودلی و او له سیاسي مخالفانو یې غوښتنه کړې وه، چې ناکراري ختمه کړي. په ورته وخت کې وروسته معترضانو د قرغیزستان په پلازمېنه بېشکېک کې د جمهور رییس د دفتر او پارلمان ودانۍ هم د یوڅه وخت لپاره نیولي وو او دواړو ودانیو ته یې اور اچولی دی. په هغو تصویرونو کې چې پر ټولنیزو شبکو خپاره شوي، ښکاري چې معترضان د ودانۍ په اووم پوړ کې د ولسمشر په دفتر کې له یوې خونې بلې ته ننوځي او ځینې وسایل ویجاړوي.

## محب: شرایط توافق‌نامۀ امریکا-طالبان بر مردم تحمیل شده نمی‌تواند



همزمان با دیدار رئیس‌جمهور غنی از قطر، حمدالله محب مشاور امنیت ملی کشور، می‌گوید که کابل نمی‌خواهد تا شرایط توافق‌نامۀ صلح میان امریکا با طالبان، برمردم افغانستان نیزتحمیل شود. آقای محب می گوید که مذاکرات کنونی در دوحه به گونۀ مستقیم میان جمهوری اسلامی افغانستان وطالبان است.
او می‌افزاید که در توافق‌نامۀ صلح امریکا با طالبان کابل دخیل نبود و ازهمین رو نمی خواهد تا آن توافق‌نامۀ، شامل مذاکرات جمهوری اسلامی افغانستان با طالبان نیز شود.
آقای محب گفت: «این مذاکرات بین تیم جمهوری اسلامی افغانستان و طالبان مستقیم است، در این مذاکرات ما کدام میانجی نداریم، و این مذاکرات بر اساس حل معضله افغانستان میان افغانان است، ما لازم نمیدانیم که در این مرحله یک پروسه که ما در آن دخیل نبودیم شامل ای پروسه بسازیم. شرایطی که در آنجا گذاشته شده که او سر مردم افغانستان هم تحمیل شوه، چیزی که ما شامل او پروسه نبودیم.»
این در حالی است که هیئت های مذاکره کننده صلح، در بارۀ اصل شمرده شدن توافق‌نامۀ امریکا - طالبان در مذاکرات میان افغانان اختلاف دارند واین اختلاف هفته ها است که دو هیات را از رسیدن به نتیجه نهایی در کارشیوه مذاکرات باز داشته‌است. رئیس‌جمهور غنی در ادامه دیدارش از دوحه با زلمی خلیلزاد و جنرال اسکات میلر فرمانده کل نیروهای خارجی در افغانستان دیدار کرد.
آقای محب گفت: «بازهم می گویم که موافقه بین امریکا و طالبان بود، و ما در اعلامیه خود هم تنا از خبر شدن از آن نشر کردیم کدام مسئله دیگر را ما اضافه تر از آن نگفتیم، نه آن وقت نه حالا.»

## ژوند


## د ټولو پانګوالو لپاره هېڅکله د حل یوه لاره نه وي



ډېری وخت هغه پانګوال چې مالي پوهه یې ډېره لوړه نه وي، په نورو پسې ځي او هغه حللاره د ځان لپاره ټاکي چې نورو انتخاب کړې وي. له دې سره سره چې د پانګونې متخصصین تاسو ته وایي، د پانګونې لپاره یو راز موجود دی، خو اصلي راز بیا دا دی چې هېڅ راز نشته. د ګټورې پانګونې لپاره ډېرې لارې او سرچینې شته چې باید ګټه ترې واخلی. که نه غواړی چې په هغو کنفرانسونو کې ګډون وکړی او خپلې پیسې ولګوی چې تاسو ته د ښې او ګټورې پانګونې په اړه معلومات او زده کړه درکوي، نو بیا ډېرې وېب‌پاڼې شته چې په دې برخه کې کافي معلومات لري، کولی شی ګټه ترې واخلی. تاسو چې د پانګونې په اړه کومې سپارښتنې اوری، هغه تر ډېره عامې دي، نو اړ یاست چې هغه یو څه شخصي کړی او هغه ټکي ترې را واخلئ چې ستاسو لپاره وي. ستاسو موخه باید دا وي چې مالي پوهې ته ورسېږی.

## سامسُنګ د ګلکسي اېس۲۰ ارزان بیه بڼه معرفي کړه

سامسُنګ کمپنۍ د یوې غونډې له لارې خپل نوی غوره ځانګړنې او مناسبه بیه لرونکی ځیرک موبایل خرڅلاو ته وړاندې کړ. دغه ځیرک موبایل ګلکسي اېس۲۰ اېف اي (Galaxy S20 FE) نومول شوی او د ګلکسي اېس۲۰ ارزان بیه بڼه ده. سامسُنګ کمپنۍ خپل دغه ځیرک موبایل له دې امله چې اکثره کاروونکي ۱۰۰۰ امریکايي ډالره یا تر دې لوړه بیه لرونکي ځیرک موبایلونه نه خوښوي، خرڅلاو ته وړاندې کړ. دغه ځیرک موبایل ٦،٥ انچه مخپاڼه لري چې له ګلکسي اېس۲۰ څخه غټه او ګلکسي اېس۲۰ پلس څخه کوچنۍ ده. د دغه ځیرک موبایل مخپاڼه له ۱۲۰ هرتز ریفریش ربټ څخه هم ملاتړ کوي. ګلکي اېس۲۰ اېف اي کې ٦



ګېګابایټ رم، ۱۲۸ ګېګابایټ د فایل ثبتوني وړتیا او ٤٥۰۰ ملي امپیره وړتیا لرونکې بېټرۍ ورکړل شوې ده. د دغه ځیرک موبایل ٥جي څخه ملاتړ کوونکې بڼه کې د کوالکام کمپنۍ سنپ ډراګن ۸٦٥ ډوله پروسېسر او ٤جي څخه ملاتړ کوونکي بڼه کې بیا اکزینوس ۹۹۰ ډوله پروسېسر ورکړل شوی دی. د دغه ځیرک موبایل بیه ۷۰۰ امریکايي ډالره ټاکل شوې او د اکتوبر په ۲مه به په مختلفو هېوادونو کې خرڅلاو ته وړاندې شي.



د خپلو هیلو پوره کولو لپاره نغدو پیسو ته اړتیا لرئ !!!!!!
د معاشاتو پور له په زړه پورو او آسانو شرایطو سره ترلاسه کړئ
• د پور آسانتیا په افغانیو او امریکايي ډالرو کې شتون لري
• لنډمهاله پور د 12 میاشتو سره
• آسان سند جوړونه
• د دولتي، غیر دولتي او خصوصي سکتور کارکوونکي کولی شي دغه پور ته لاسرسی ولري
دلازیاتو معلوماتو لپاره ز مونږ نږدې څانګې یا هم په مرکزي دفتر کې د پورونو څانګې څخه لیدنه وکړئ او یاهم ز مونږ 24 ساعته شمېرې 1515 سره اړیکه ټینګه کړئ
عزیزي بانک
Azizi Bank
www.azizibank.af
1515